سر یال نمبر: 427

بسم اللہ الرحمن الرحیم

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# کرم (صده)؛ د سولې د ګډوډولو لپاره د شر ښوابښو دسیسې په ډاګه شوې د امنیتي ارګانونو پر وخت اقدام، یو شمیر تورن له وسلو او مهماتو سره نیول شوي

په کرم کښې د تیرو څو ورځو راهسې د ډېرو مختلفو پېښو ته د فرقه ایز رنګ ورکولو سره د سیمې امن خرابولو کوششونه روان دي۔

یوه بله زړه بوږنونکې پېښه دکرم په صده سیمه کې هغه وخت رامنځته شوه چې ناپیژاندو وسله والو له پاړه چنار څخه پېښور ته په لاره یو موټر په نښه کړ چې له امله یې دیو امنیتي اهلکار او یوې ښځې په ګډون څلور تنه ملکي وګړي شهیدان شول۔

**امنیتي ځواکونو او پولیسو یو شمېر شکمن کسان نیولي او د هغوی له قبضې څخه یې په زیاته اندازه وسله هم ترلاسه کړې ده۔ او د نورو ملزمانو د لټون لپاره عملیات روان دي۔**





**د حکومت، امنیتي ځواکونو او سیمه ییزو مشرانو له خوا په پرله پسې ډول هڅې روانې دي چې د پیړیو پخوانیو فرقه ییزو اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي۔**

امنیتي ادارې او د دواړو فرقو سره تعلق لرونکي خلک هوډ لري چې شرپسندانو ته به اجازه ورنکړي چې د سیمې امن ګډوډ کړي۔ او مجرمان به په هر صورت کې کیفر کردار ته ورسیږي۔